آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۸/۲۷

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

۴۶مه برخه

لنډۍ، د ښتولو ستونزه

۳۹۵مه برخه

د لنډيو په راټولولو کې زما يومرستندوي ښاغلی سميع‌الله حسين‌خيل دی، پخوايي هم لنډۍ راته رالېږلې دي، د لنډيو په برخه کې ما د ده د هڅو په باب پخوا تر دې هم تبصرې کړې وې، که مو وخت درلود، په لاندې لينکونو کې يې لوستلای شئ:

**https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_landay342.pdf**

https://af.dawatmedia24.com/?p=186088

څوورځې مخکې يې بيا مهرباني وکړه او يوشمېر نورې لنډۍ رالېږلې. زه له ښاغلي سميع‌الله حسين‌خيل نه مننه کوم، هيله ده چې تل به خپله دا فرهنګي همکاري جاري وساتي. زه به يادې لنډۍ ترچاڼ وروسته، له تاسو درنو لوستونکو سره شريکې کړم:

**جانان مې ستورى د اسمان دى**
**نه ورختی شم، نه مې زړه صبر کوينه**

**جانانه غلی غلی ګوري**
**يا دې څه ورک دي يا دي زه ليدلی يمه**

**جانان ريښتيا مرور نه دئ**
**ګيلمن ګرځي د ځان قدر زياتوينه**

**چې ژوندون وي جانان به راشي**
**چې ژوندون نه وي بيا به نه وي ديدنونه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

چې په ښایست مې خفه کیږې
نور به د ځمکې خوب کوم چې ژېړه شمه

چې پېغله لور یې په کاله وي
د هغه کور سابه جواري مزه کوینه

چې خویندې کښېنې ورونه ستایي
چې ورونه کښېنې خویندې بل ته ورکوینه

چې سړی هر څومره پښتون شي
زړه چې مئین شي پښتو ټوله تربنه ځینه

چې فکر بند په زولنو کړم
چې رانه خلاص شي برابر جانان له ځینه

په یارانه دې خاورې واوړه
زرگی مې راوړه پۀ یارۍ پښېمانه یمه

په یارانه دې پوهه نه شوم
په جدائي دې لکه مالگه اوبه شومه

څنگه دې مست په یارانه وم
څنگه رنځور دې د بېلتون په تبه شومه

څنګ ته مې مه راځه جانانه
سبا به بوی د لونګین درڅخه ځینه

خاونده څه چارې راوشوې
نه مې یار یار شو نه یې خلاص د غمه شومه

خود به یې زه د در ملنګ یم
چې سپینه خوله راته خیرات کې راکوینه

خدایه دا مور یې لېونۍ کړې
مئین پرې زه یم اوس یې بل ته ورکوینه

خط چې د یار له لوري راغلو
یوه شیبه ورته سر توره و دریدمه

خطه په داسې وخت کښې ورشه
چې د ماښام ډوډۍ ته ناسته وژاړینه

له مانه ولې ګیلمن یې
کم‌عقله یاره د پردو اختیار کې یمه

لمونځ چې قضا شي بیا ادا شي
نه ادا کیږي قضا شوي دیدنونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**له درده داسې ليونی شوم**
**په نيمه شپه کې درته ليکمه خطونه**

**يا سرکاري ډاکخانې بند دي**
**يا مسافر لالی راليږي نه خطونه**

**که خط مې غواړې خط به در شي**
**که ديدن غواړې رب ته پورته کړه لاسونه**

**ورور مې دخاورو د خوب نه وو**
**مور جانې قبر ړنګوم بالښت وروړمه**

**ستا به لسمه يارانه وي**
**زما اوله يارانه ده، زړۀ مې چوينه**

**ادکه مور درنه لوګی شه**
**په پردی ژبه راته مه ليکه خطونه**

**طبيب دې خپلې ګولی يوسي**
**خط د اشنا د لوري راغی روغ يې کړمه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ